DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او د برېښنايي پیسو او ادایینزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۰۹۱۹ ................ ۷۰۴۹

نېټه: ۷ / ۴ / ۱۴۴۸

---

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د وړو تمویلونو د قدر وړ مؤسسو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع :** د غیر منقولو رهني شتمنیو د ثبت معلوماتي نظام کې د کاغذي او برېښنايي تذکرې په اړه د افغانستان بانک ۸۱ گڼه تصویب

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې اداري د ۲۰۸۹ گڼې ۱۴۴۸/۰۲/۰۵ نېټې متحدالمال په تعقیب لیکل کیږي:

اړونده مؤسسې اړې دي چې د غیر منقولو رهني شتمنیو د معلوماتی نظام کارولو او د لا اغیزمنیدو په موخه، لاندې موارد رعایت کړي:

1) د وړو تمویلونو مؤسسې اړې دي چې د ټولو پخوانی مالي تمویلات چې تر اوسه فعال دي د رهن غیر منقول شتمنیو د خبرتیاوو د ثبت په موخه، د تمویل اخیستونکو د تذکرو شمېرې (کاغذي یا برېښنايي) د یوې میاشتې په موده کې په معلوماتي نظام کې ثبت کړي، او وروسته نوي مالي تمویلات به یوازې د برېښنايي تذکرو پر بنسټ د ثبت وړ وي؛

2) د وړو تمویلونو مؤسسې اړې دي چې هغه ټولې غیر منقولې شتمنۍ، که د شرعي قبالې یا د عرفی سند لرونکي وي، او که په هر ډول مالي تمویل د تضمین ( په محکمه کې تضمین، اماني، یا Safekeeping) په توگه یې تر خپل تضمین لاندې نیولې وي یا یې په راتلونکي کې تر تضمین لاندې نیسي، د غیر منقولو رهني شتمنیو د ثبت معلوماتي نظام کې یې ثبت کړي؛

3) د وړو تمویلونو مؤسسې اړې دي چې له سیستم څخه د گټې اخیستنې اړوند لاندې فیسونه اجرا کړي:

   1) د لومړنی خبرتیا د ثبت فیس ۱۰۰ افغانی
   2) د اصلاحي خبرتیا د ثبت فیس ۵۰ افغانی
   3) د تمدیدي خبرتیا د ثبت فیس ۷۵ افغانی
   4) د اعتراضي خبرتیا د ثبت فیس ۱۰۰ افغانی
   5) د پلټنې فیس ۵۰ افغانی

موضوع په پوره توگه تاسوته د نورو اجراآتو په موخه شریکه شوه.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی.**والسلام**

۱۴۴۸ / ۴ / ۶

**صدیق الله خالد**

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپی:**

- د ریاست دفتر د قدر وړ لوی آمریت ته؛
- د اعتباراتو د ثبت او مالي خدمتونو پراختیا لوی آمریت ته؛ او
- د وړو تمویلونو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلیفون
ټولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بان